دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه

ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO » پیژندنه !

## شلمه برخه :

## د استراتیژیکو څیړنواومطالعاتو دپاره دنړیوال انستیتوت ریپوټ :د ناټو د پراختیا دپاره باید هڅي و نه سي !

په لندن کي داستراتیژیکو څیړنواومطالعاتو دپاره دنړیوال انستیتوت IISS، په دی باوراوعقیده باندی دی او دیو ریپوټ په خپره ولوسره په ټینګار سره وایی : ودی ته به اړتیا نه وي چي په هره بیه دشمالی اتلانتیک دپوځي سازمان ناټو ددفاعي تړون دپراختیا دپاره هڅي وسي .

د تیر کال کي دقفقاز دلانجي اوپیښی راپه دی خوا، د امنیتي سیمه یزوچارو دکارپوهانو دلړلیددمخی چي وایی : په هره بیه باید دناټو د پراختیا دپاره زیاراوهڅه ونسي . او دوي داهم وایي چي دقفقاز په لانجه کي د روسیې او دناټو دغړیو هیوادونو ترمنځ دلړلیدونو دتوپیر سره سره بیاهم باید چي دناټو دفاعي تړون دروسیې سره خپلي اړیکي وساتي .

په لندن کي داستراتیژیکو څیړنواومطالعاتو دپاره دنړیوال انستیتوت IISS مشرجان چیمپ مان John Chimpman ددغه علمي انستیتوت په کلني ریپوټ کي چي پردغه۱۹-۹-۲۰۰۹نیټه باندی دانګلیستان په پلازمېنه لندن کي خپور سوي وو، په لاندی ډول سره لیکلي سوي : دناټو دپراختیا سیاست باید په اصطلاح سره،د روسیې ددولت دلوبي بڼه غوره نه کړي . او ددې پرځای چي دناټو دفاعي تړون ددغي ټولني دپراختیا دپاره هڅي کوي ښه به داوي چي په لومړي پړاوکي دخپلو اوسنیو غړیو دملاتړ دپاره ډیری کړنی ترسره کړي .

دلندن داستراتیژیکوڅیړنواومطالعاتو دپاره دنړیوال انستیتوت دکلني ریپوټ په یوه بله برخه کي چي د **strategic suvey** په نامه یادیږي لیکل سوي چي لویدیځ هیوادونه بایدپر دې موضوع باندي ژور فکر وکړي چي دوي په نړۍ کي د اوسنی روانوکړکیچونو،لانجو او شخړو د امله لکه دایران اټومي لانجه یا دافغانستان دمسئلې په اړوند څومره دروسیې سره ګډکار ته اړتیالري،په دغه کلني ریپوټ کي

دګرجستان هیوادته ګوته نیول سوې او ویل سوي چي دګرجستان هیواد دخپل جلاسوي ولایت جنوبي اوسیتیا په مسئله کې دروسیې دهیواد سره یې بې مسؤولیته برخورد کړی او د روسیې سره یې په جګړه پیل کړی دی،نو دلته داپوښتنه رامنځ ته کیږي چې ایاد ګرجستان هیوادپه راتلوونکی کې دناټو یو بامسؤولیته غړی بلل کیدای سي او که څنګه؟
او دغه پوښتنه یوه بنسټیزه او معقوله پوښتنه بلل کیږي . لکه څنګه چې ښکاري ګرجستان په خپل دې کار سره په ناټوکې خپل دغړیتوب چانس لږ کړی دی . او اروپایي ټولنه یوبنسټیزاو معقول دلیل په لاس کې لري چې ووایی : دناټو ددفاعي تړون دپه زړه پوری ستراتیژیواوموخو پر بنسټ دغه ټولنه کولای سي چې خپل دپراختیا پر سیاست باندي نوی کتنه اوغوروکړي اوپه دی هکله یومعقول لړلید رامنځته کړی .
اوداخبره د اوکراین په برخه کې هم د اعتبار وړ بلل کیدای سي ځکه چي په دغه هیواد کې هم ددی هیوادډیری وګړي د دې کړنی سره مخالف دي چي اوکراین دي دناټوغړیتوب تر لاسه کړي. او د بله پلوه که چیري دناټو د پراختیا سیاست ته همداهسې دوام ورکړل سي نو ددې خطر هم کیدی شي رامنځته سي چي دلویدیزو هیوادونو ترمنځ هم ویش او اختلافات رامنځته کړي .
د بله لوری نه په دغه رپوټ کې داهم لیکل سوي چې د اګست په میاشت کې دګرجستان په لانجه کې د روسیې غبرګون پرځای اوپرحقه نه وو اود روسیې دولت په دغه مسئله کې ډیرسخت او بې تناسبه غبرګون ښودلی دی . خو دروسیې داکار ددې دلیل نه سي کیدی چي موږ دسړې جګړې په لوربیاد سره ګام واخلو .دناټو ددفاع وزیران په لندن کې پر دغه نیټه ۱۹-۹-۲۰۰۸باندی په غیر رسمي ډول سره راټول سوي وه او دوي په دغه لیدنه اوکتنه کې دقفقاز پر لانجه اوکړکیچ باندي هم خبري یې کړې دي .

## په ګرجستان کې د ناټو د دوه زره کسیزوځواکونو پوځي تطبیقات اومانورونه به د ناټو اودروسیې ترمنځ دمرستووبهیرته زیان ورسوي !

ناټو د روان کال دمی د میاشتې پر شپږمه نېټه باندی په ګرجستان کې د سوله ایز ملګریتوب د پلان په چوکاټ کې دکرجي ځواکونو اویوشمیرملګروهیوادونودځواکونو په ګډون سره دخپلوځواکونو سره یوځای دپخوانی شوروی اتحادسیمه،دګرجستان په خاوره کې په پوځي تطبیقاتو اومانورونویې پیل وکړ. چې دناټو دغه پوځي تطبیقات او مانورونه د روسیې د ورونو(دروازې ) په وړاندې د دغه هېواد سخت غبرګونونه یې راوپارول . ناټو د روسیې دفیدراتف هیوادسره د اړیکیو د ښه والي په پیل کې دغه پوځي تطبیقات اومانورونه تر سره کړ . چې دلته ډېری مهمی پوښتنی رامنځته کیږی ،نو ناټو ولی د روسیې مخالفت ته د سترګو په پټولو سره دغه پوځي تطبیقات اومانورونه یې تر سره کړ؟ او ایا د ناټو او دروسیې ترمنځ اړیکې یو ځل بیا ویجاړی سوي دي؟داهغه پوښتنی دی چې معقول او سم ځوابونه باید ورته ورکړل سي .
ناټو دروان کال د اپریل د میاشتې په نیمایي کې اعلان وکړ چې د روان کال د مې د شپږمې (۶)نېټې څخه بیاد جون تر لومړی(۱) نېټې پورې په ګرجستان کې نظامي تطبیقات اومانورونه به تر سره کړي
.
ناټو دا یې څرګنده کړې ده چې د دغه پوځي تطبیقاتو اومانورونو موخه د ترهګرۍ پر ضد مبارزه ده او د روسیې وملی امنیت اوملی ګټوته به ګواښ نه وي . خو د روسیې په هاند په ګرجستان کې دپوځي تطبیقاتو اومانورونو ترسره کیدل په دغه سیمه کښې چې په دی اړه د دواړو خواوو ترمنځ د لړلیدونواونظریاتو توپیرونه موجود دي، دغه تطبیقات اومانوری یې یوه ستره غلطی او خطرناکه پریکړه اوتیروتنه وبلله اوپه څرګنده توګه یې وویله چې دناټودغه کړنه د روسیې دهیواد دپاره یوه ښکاره پاره ونکی عمل ګڼل کیږي . د پاملرنې وړ خبره خو دا ده چې د روسیې او ناټو ترمنځ هغه لوړپوړي سیاسي اړیکی چې د(۸) اتو میاشتو دپاره ځنډېدلې وه ، یوازی د(۲۰۰۹) م کال داپریل د میاشتې پر (۲۹مه )نهه ویشتمه نېټه باندی بیرته رامنځته سول . د سیمه یزوچاروسیاسي کارپوهان د روسیې اوناټود رامنځته سویومسائلو په هکله چې ناټو په ګرجستان کې پر خپلو پوځي تطبیقاتو

اودمانورونو په تر سره کولو باندی تینګار کوي، تر زياتي اندازې پورې روسيي ته د خپلې سياسي رويې ځرګندولو موخه لري چې دناټونظامی سازمان د ختيځ پرلورد خپلې پراختيا په اړه ستراتيژۍ يې نه ده اړه ولی .
د سيمه يزوچارودسياسي کارپوهانودلړليددمخی د ناټوددغه عمل اوکړنوځخه راځرګنديږي چې د ناټو بنستيزه ا ستراتيژي د اوباما دحکومت د جوړيدو ځخه راپه دی خوااوهمدارنګه د اوسني اقتصادی کړکيچ او د امريکايي ديپلوماتيکو تګلارو د تنظيمولود امله بدلون يې نه ده موندلی .
د روسيي ولسمشر ديمتری ميدويدوف په دی هکله يې ويلي وو : که ناټوپه ګرجستان کې پوځي تطبيقات اومانورونه تر سره کړي، ښايي چې بېلا بېلې ستونزې ورسره رامنځته سي . اوناټو بايد د ممکنو بدو پايلو په اړه مسئوليت پر خپله غاړه باندی واخلي . ځکه چې په دی اړه د روسيي غبرګونونه ډېر سخت دي . خو روسيه به د ناټو دغه عمل ته ځرنګه ځوابونه ورکړي؟ د سيمه يزوچاروسياسي کارپوهان په دې هکله خپل لړليد په لاندی ډول سره بيانوی :
لومړی، روسيي اعلان کړی چې تر نامعلومې مودې پورې به د ناټو سره د مرستی د شورا کارونه اوپلان سوی چاری به وځنډوي . ښايي چې د ناټو او روسيي ترمنځ د مرستو بهير ته ستر تاوان ورپيښ کړي . په تېره بيا اوس مهال ناټو غواړي چې په افغانستان کې خپل پوځي عمليات پياوړي کړي . اوکيدی سي چې روسيه په دې هکله د ناټو سره مرستې ونه کړي . سر بېره پردې هغه شونتيا ډېره زياته ده چې روسيه به د ابخازيا او جنوبی اوسيتيا سره په دغو سيمو کښي د روسيي ځواکونو د ځای پر ځای کولو په اړه تړونونه لاسليک کړي . د اوسنيو حالاتوډپلوه دغو دواړو سيمو ته د روسيي سرتېريو دشمېر د زياتوالي په اړه نښی نښانی ډېره ښکاره اوبربنډه ځواب به دناټودد ی کړنی په وړاندی وي .
د روان کال دمې د مياشتې پرپينځمه(۵) نېټه باندی کوم چې د ناټو د پوځي تطبيقاتو اومانورونود پيل ځخه يوه ورځ مخکې د ناټو ملګری هېواد ارمنستان اعلان وکړ چې په دغه پوځي تطبيقاتو اومانورونو کښي به ګډون ونه کړي، او مخکې تر دې د قزاقستان په ګډون يو شمېرنور هېوادونو هم ورته پريکړه وکړ. د سيمه يزوچارودسياسي کارپوهانوپه هاند که ناټو غواړي چې د همګټو هېوادونو په ټولنه کې لا مهم رول ولوبوي، نو بايد کلکه او محتاطه تګلاره پلي کړي .
کله چې دقزاقستان او ارمنستان هيوادونه پريکړه وکړه چې د ناټو په پوځي تطبيقاتو اومانورونو کښي ګډون ونه کړي . د دغه کړنی ځخه ځرګنديږي چې که ناټو غواړي د همګټو هېوادونو په ټولنه کې لوی رول ولوبوي او د نوموړو هېوادونو سره د مرستی نژدې اړيکې ټينګې کړي، نو بايد په دې سيمه کښي خپل فعال رول ولوبوي، نه دا چې په سيمه کښي حالات پيچلی کړی ،ناامنی اوګډوډی رامنځته کړي .

## ناټوويل : په ګرجستان کې به اړوند پوځي تطبيقات او مانورونه لغوه نه کړي :

د ناټو پخوانی سرمنشي هاپ دي هوپ شيفر چې په فنلاند کې په ليدنې بوخت وو، دروان کال د مې پر ځلورمه (۴مه)نېټه يې په هلسنګي کې خبرليکوونکواوژورنالستانوته يې په يوی خبری ناسته کې وويل : ناټو به په ګرجستان کې اړوند پوځي تطبيقات او مانورونه به لغوه نه کړي .
دناټوپخوانی رئيس هاپ دي هوپ شيفر د فنلنډ د ولسمشرې تارجا هالونين سره د خبرو اترو وروسته په دی مطبوعاتی ناسته کې وويل، که ځه هم د ناټو او روسيي ترمنځ توپيرونه سته، خو دواړه خواوی بايد يو ډول کلک دوستانه اړيکې وساتي .
دغه راز هاپ دي هوپ شيفرد تارجا هالونين سره په افغانستان کې د ناټو په سوله يزو عملياتو کې د فنلنډ د ګډون په شمول د يو شمېر مسئلو په اړه خبرې اترې وکړې . اغلی هالونين ځرګنده کړه چې د افغانستان د ولسمشرۍ ټولټاکنې چې د روان کال داګست په مياشت کې به تر سره سي، ډيرې مهمې دي . اوفنلاند به د دغو ټولټاکنو د تامينولو په هکله نور(۱۰۰) سل تنه سوله ساتي سرتيری وافغانستان ته ورولېږي .

## د گرجستان دکړکیچ اود شخړې د پیل را وروسته د ناټو او روسیې ترمنځ لومړئ رسمي خبرې اترې ترسره سوي :

د ناټو داته ویشتو( ۲۸ )غړیو هېوادونو استازیو او په ناټو کې د روسیې لوی استازی ولادیمیرراګوزین دروان کال د اپریل دمیاشتی پرنهه ویشتمه( ۲۹ مه )نېټه باندی په بروکسیل کې د ناټو په مقر کې خبرې اترې وکړې چې دا په تېر اګست کې د ګرجستان د شخړې د رامنځته کېدو وروسته د دواړو خواوو ترمنځ لومړئ رسمي خبرې اترې ګڼل کیږي او اصلي موخه یې دا وه چې په راتلوونکې میاشتو کې د ناټو او دروسیې د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ د رسمي خبرو اترو دپاره چمتووالی ونیسي .

د ناټو ویاند جامس اپاتهوري هغه وخت د دغو خبرو اترو وروسته یې ویلی وو : د ګرجستان مسئله او په دغې سیمه کې د پوځې مانورونو په هکله چې د راتلونکې میاشتې په پیل کې به جوړسي، د دواړو خواوو د نظریو ترمنځ ترپیرونه لاهم شته، خو دوی بیاهم غواړي چې په هغو برخو کې چې ګډې ګټې لري، جوړه ونکې مرستی اوخپل منځی همکاری رامنځته کړي .

## د ناټو د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې به د ناټو او روسیې ترمنځ د اړیکو د عادي کیدو امکان موجود وي :

دشمالی اتلانتیک دناټودپوځې سازمان د غړیو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو غونډه به د روان کال دمې د میاشتې پرپینځمه (۵ مه) نیټه په بروکسیل کې پرانستل سول .د ناټو او روسیې ترمنځ اړیکې چې د ګرجستان د شخړې د امله د اوو میاشتو راهیسي ترینګلی سوې وه،د بیر ته عادي کیدو امکان لری که نه؟.خود ډول ،ډول نښونښانو څخه څرګندیږي چې ددغه غونډی راوروسته د دواړو خواوو د اړیکو د ښه والي فرصت رامنځته سوی دی .

د ناټو سرمنشي یاپ دې هوپ شیفر به د روان کال دمې د میاشتې پرپینځمه (۵ مه) نیټه په یاده سوی غونډه کې د روسیې سره چې د ده د غیر رسمي سیاسي اړیکوپربنسټ صورت موندلی وو.بیا په همدی ډول سره دمطبوعاتواوخبری اژانسوپه حواله د بېلا بېلو غړیو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو هم د روسیې په اړه د راتلونکې تګلارې پرسر بحث اوخبراتری یې کړه وو .د ناټو د بهرنیو چارو یو چاروکي د وران کال دمې د میاشتې پرڅلرمه(مه۴)نیټه باندی ویلی وو: کیدای سي چې په دغه غونډه کې د ناټو او روسیې ترمنځ د اړیکو د عادي کیدو په هکله اصلي موافقې رامنځته سي .د ناټو ویاند جېمز اپاتورای هم په هغه ورځ په یوه مطبوعاتي غونډه کې ویلی وو :که په دغه غونډه کې پر دې مسئله پریکړه وسي،نو ناټو به په لنډ وخت کې د روسیې سره د سفیرانو په کچه رسمي غونډه پیل کړي . خو هغه په عین وخت کې پر دې یې هم ټینګار وکړ چې د دواړو خواوو ترمنځ د اړیکو عادي کیدل دا مانا نه لری چې ناټو به پر ګرجستان باندې د روسیې پر تېری غندنه نرمه کړي .

دا چې د ناټو او دروسیې ترمنځ کنګل سوي اړیکی ویلې کیداې سي که نه ، او یا کله عادی کیدی سی،د امریکا په رویې اوکرکترپورې اړه لري . د سیاسي واک پر څوکی باندې د اوباما پورته کیدل د دې دپاره اړین شرط برابر کړی دی . د(۲۰۰۹) م کال د فبروری دمیاشتی پر (۶مه) شپږمه نیټه باندی د امنیت (۴۵)پینځه څلویښتم نړیوال کنفرانس د المان د مونیخ په ښار کې تر سره سو.

په نوموړی کنفرانس کې د امریکې د متحده ایالاتو د ولسمشر مرستیال جوی بایډن، د المان لومړئ وزیره انګیلا مریکل او د ناټو عمومي سرمنشي یاپ دې هوپ شیفر ګډون کړي وو.

په کنفرانس کې د بحث وړ اساسي موضوعګانې دروسیې په اړه، اتومي وسلې، ایران، افغانستان، انرژي، د بالکان او قفقاز په سیمو کې وروستي حالات ترڅیرنی لاندی نیول سوی وو.

انګیلا مېرکل پر روسیې باندی ږ غ وکړ تر څو د اروپا د امنیتي سیاست سره دې شریکه سي.

د ناټو عمومي سرمنشي یاپ دې هوپ شیفر پخپله وینا کې وویل چې د اتومي وسلو د کمولو، په اړه باید د روسیې سره همکاري وسي. شیفر زیاته کړه چې د ناټو او اروپایي ټولنې تر منځ د مرستی په اړه کې باید د ځینو غړو هیوادونو د خنډونو څخه دی مخنیوی وسي.

همدا راز شیفر د گرجستان په جلا غوښتونکو سیمو کې د روسيې دخوا د پوځې هڅو جوړ ه ول د اروپايي ټولنې امنيت ته يو گواښ وباله .
همدارنگه د امریکا د ولسمشر مرستیال جوی بایډن هم د مونیخ د امنيت په غونډه کې د لومړی ځل دپاره یې په څرگند ډول سره وويل چې د روسيې سره د ناټو د اړیکو د بیا ښه والي فرصت رامنځته سوی دی . د دې ترڅنگ د ناټو سرمنشي یاپ دي هوپ شیفر هم په مونیخ کې د روسيې د صدراعظم د مرستیال سرگي ایوانوف سره وکتل چې دا د تیر کال د اگست دمیاشتې راهیسې د دواړو خواوو ترمنځ د تر ټولو لوړ پورو چارواکیو سیاسي تماس اوداړیکورامنځته کیدل دی . نو د دې څخه څرگندیږي چې د دواړو خواوو ترمنځ د اړیکو د بیا ښه والي نښه رامنځته سوی دی .او همدارنگه داهم ډېرد پام وړ خبره وه چې د امریکا د بهرنیو چارو نوی وزیره هیلری کلینټن د لومړی ځل دپاره د ناټو د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې گډون وکړه او د روان کال دمې د میاشتې پر شپږمه (۶مه) نیټه باندی به په ژنیو کې د روسيې د بهرنیو چارو د وزیر سیرگی لاوروف سره د توغندیو ضد سیسټم،د ایران او افغانستان د مسئلو په هکله خبر اترې وکړي . د دې نه مخکې،د امریکا ولسمشر بارک اوباما د روسيې وولسمشر دمیتری میدویدیف ته په یو پیغام کې په غیرمستقیمه توگه څرگنده کړه او ویلی وو:امریکا به په ختیځی اروپا کې د توغندیو ضد سیسټم ځای پر ځای کول ودروي،تر څو دروسیی هیواد ایران وهڅوي چې د ذروي پلان څخه لاس واخلي . د روسيې د بهرنیو چارو وزیر سیرگی لاوروف هم څرگنده کړه وه :روسیه به دا کار په نظر کې ونیسي چې د امریکا په مشری د نړیوال مرستندویه پوځ دپاره افغانستان ته د توکو او دوسلیو دلیږلو زمینه برابره کړي .د څیړونکو په هاند د دې کبله چې واروپا ته د هیلری کلینټن دغه سفر د بهرنیو چارو په هکله د اوباما د حکومت د نوی استراتیژی د پلـــي کـــولـــو دپاره ډیر مهم بولی،چې ښايي د روان کال دمې د میاشتې پر پینځمه ( ۵ مه) نیټه باندی د ناټو د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې د روسيې سره د خپلو اړیکو د عادي کیدو دپاره زمینه برابره کړي ، اوپه دی کې هیڅ شک نسته چې دا به تر زیاتی اندازې پورې په ژنیو کې د امریکا اود روسيې د بهرنیو چارو د وزیرانو ترمنځ د کتنو د بهیر دپاره ممکن دغه لیدنه اوکتنه دښواړیکوپه رامنځته کولو کې گټوروبلل سي ./
(نور بیا،په یوویشتمه برخه کې ادامه لري)
اخیځلیکونه : داستراتیژیکوڅیړنودسایټ ،دوچه ویلی ،راوی نیوز او دریانووستی څخه .